# د ډاکټر نجیب الله شهید دویم ژوند

تاج الدین خان

دا نن چې مونږ دلته راغونډ شوي یو نو مقصد مو د یو عظیم سیاسي مدبر او لوئے شخصیت د افغانستان د پخواني جمهور رئیس ډاکټر نجیب الله شهید په یاد کښې هغوي ته د عقیدت پېرزوئنې وړاندې کول دي.

یقیناً چې هغه یو لوئے او عظیم شخصیت وۀ چې ډېر علم او پوهه ئې لرله، یو سیاسي دانشور وۀ او د خپل وطن افغانستان د راجوړولو او پرمخ بوتللو کښې ئې ډېر لوئے لاس لرلو. خو د افسوس خبره ده چې د دغه لوئے ذهن څښتن خنې ناوړه عناصرو د افغانستان د ودانۍ او د پښتنو ودې او ترقۍ ته پرې نۀ ښودو او په شپږویشتم ستمبر کال نولس سوه شپږنوي کښې ئې د هغۀ د ملاقات په بهانه سره د خپل ورور محمود احمدي (احمدزي) شهید کړلو او نۀ صرف شهید ئې کړو بلکې د هغوي د لاشونو ئې هم ډېره بې حرمتي وکړه چې نۀ په اسلام کښې او نۀ په پښتنو قدرونو کښې ئې څۀ جواز شته.



د طالبانو په نوم چې د افغانستان په عظیمه خاوره کومه کودتا وشوه د هغې تاؤ تپ او تریخوالے مونږ اوس دلته په پښتونخوا کښې هم محسوسوو چې نۀ یوائې ئې د افغانستان په تباهۍ او بربادۍ کښې لاس ولرۀ بلکې زمونږ د زمکې امن او امان ئې هم له مینځه یوړۀ او دا نن چې مونږ کومې المیې سره مخ یو دا هم د هاغه پښتنو مسلمانانو د عمل نتیجه ده. زۀ دا خبره په وثوق او پوره یقین سره کوم چې کۀ چرې د ډاکټر نجیب الله شهید پرامنه حکومت ختم کړے شوے نۀ وے او هغه د اقوام متحده په دفتر کښې محاصره کړے شوے نۀ وے او بیا په شهادت

نۀ وے رسولے شوے نو نن به دې خوا او هغه خوا دا اړے ګړے دا مرګ ژوبلې، دا خودکُش حملې، بم چاؤدنې او حادثې نۀ وے او نۀ به دا اېربشنونه وو.

زما دا هم نظر دے چې ډاکټر نجیب د لوئے ذهن مالک وۀ، د هغۀ فکري وسعت ډېر زیات وۀ هغۀ ته د خپل وطن خلق هم معلوم وو چې ذهني معیار ئې څۀ دے او راروان وخت ورته هم لکه د نمر روښانه ښکارېدۀ، هغۀ نۀ یواځې د افغانستان د پښتنو خېرخواه وۀ بلکې په اېشیا کښې یا به دا ووایم چې په ټوله دنیا کښې ئې د مېشتۀ ټولو پښتنو د ملي او فکري وحدت دپاره کار کول غوښتل او دا ئې ارمان وۀ چې پښتون اولس را یو ځائے شي، اتفاق او اتحاد پکښې پېدا کړي او په خپله خاوره د خپل اختیار مالکان شي او دا د هغۀ د ژوند د ټولو نه لوئے مرام وۀ او د دې لوئے ثبوت دا دے چې د افغانستان ټولو اولسونو، قبیلو او ګاونډي ملکونو او د نړۍ زیرکو خلقو ته په واز کومې وئیلي وو چې په افغانستان کښې د جنګ ختمولو او پائېداره امن دپاره هلې ځلې وکړي. هغۀ په خپلو ملي وېناګانو کښې ټولو اولسونو ته څو څو وارې خواستونه کړي وو چې زۀ د خپل منصب غرضي نۀ یم تاسو راوړاندې شئ واک هم ترلاسه کړئ او خپل وطن افغانستان هم د جنګ د لمبو نه په امان وساتئ.

هغۀ د یو داسې افغانستان خوب لیدو چې پکښې پښتانۀ د نړۍ د نورو قومونو سره د یو مترقي او روشن فکره وګړو په حېث ځنګ په ځنګ د یو باعزته او باوقاره قوم په توګه ژوند وکړي. د ګاونډي ملکونو دپاره د هغۀ فکر دا وۀ چې دوي په افغانستان کښې لاس وهنه بنده کړي، د ترهه ګرۍ مخه ونیسي او د یو پر مخ تللي افغان اولس د صحیح روزنه او تربیت کښې خپل کردار ادا کړي.

خو ډېر افسوس کوم چې د ځنې مخصوصو خفیه ادارو په اشاره او مرسته د پښتنو دا لوئے او عظیم سیاسي دانشور خپل مرام او مقصد ته رسېدو نه په نیمه لاره کښې پاتې کړے شو او د هغۀ د شهادت نه پس ته چې څۀ وشو یا دا څۀ کېږي هغه زمونږ او ستاسو د ټولو د وړاندې دي.




افغان اولس اوس هم د ډاکټر نجیب الله د غږ انګازې اوري او اوس هم هغو مخصوصو ادارو او ملکونو له پکار دي چې د افغان اولس د ګټې په خاطر او په نړۍ کښې د یو سیال اولس په حېث د ډاکټر نجیب شهید فکر و نظر پله نظر وکړي او هغې ته دې عملي جامه ورواغوندي چې دا خاوره او دا خلق څۀ خو د سکون ساه واخلي او کۀ داسې وشو نو دا به د ډاکټر نجیب الله شهید دوېم ژوند وبولو.

مړۀ هغه چې نۀ ئې نام نۀ ئې نشان شته
تل ترتله په ښۀ نام پائي ښاغلي

(خوشحال خان خټک)

(تاج الدین خان د عوامي نېشنل پارټۍ د پښتونخوا صوبې جنرل سکتر دے.)